درویش وردک

۱۲ دسمبر ۲۰۱۶

## اووه پنځوسم مجلس(په راستی کی)

دجمعی په ورځ سهار د ۵۴۵ هجری قمری کال دروژی دمیاشتی په شلمه ، شیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:

ای لاروېو، په یوه ذره صدق اوراستی سره ، زما وینا ومنه، هغه څه موچی په کورونو کی دی، هغه مالونه اوشتمنی چی په لاس کی لری، تولو ستاسومال دی، زه ستاسو څخه پرته له صدق اواخلاص څخه بل کوم څخه نه غواړم، اوموخه می ستاسو ګټه ده نه زما سود. ژبی مو په اختیارکی ونیسی، څه په ظاهراوهم په باطن کی، پوه شی چی ساتونکی ستاسو دکړو اووېناو څخه لیدنه کوی، اوعزّوجلّ خدای موله ظاهر اوباطن څخه خبردی.

ای چی مانی اوکورونه موجوړکړی اوخپل ټول عمرمو ددنیا دعمارت په جوړولو لګولی دی،هوښیاراوسه چی پرته له صالح اونیک نیت څخه کوم څه په دنیا کی بناءنکړی، ځکه پردنیا دتسلط او واک بنسټ پاک نیت دی. دوجود بنسټ اوجوړښت دی باید دهوا اونفس پرپایه نه وی. جاهل دی هغه کس چی په دنیا کی دخپل معنوی اومادی وجود جوړښت په هوی اوهوس اوبدو عاداتو، پرته دخدای عزّوجلّ دموافقت اوحکم سره جوړکړی، اوپه ناچاره یی اعمال رضایت ببنونکی ندی، اوهغه څه یی چی یی بنا کړی ورته به دی خوشحالی سبب ونګرزی، بلکه دانوردی چی پکی به هستوګن شی، اودقیامت په ورځ به له ده پوښتل کیږی چی دڅه لپاره دی ودانه کړی؟ تل دحق طلب کوه، اودخدای په ورکړه خوښ اوسه، اودهغه څه په لټه کی چی ستاروزی ندی حریص مه اوسه. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اَشَدُّعُقُوباتِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ لِعَبْدِهِ فِی الدُّنیا،طَلَبُهُ مَالَمْ یُقْسِمْ لَهُ)-«دخدای ترټولو سخت عذاب دبنده لپاره هغه دی چی هغه په هغه څه پسی شی، چی روزی یی ندی».

شیخ(خدای دی له ده راضی وی) وراندی داسی وفرمایل: زما خواته راځی ولی چی حسن ظن(نیک ګمان) نلری نوله خبرومی ګټه نشی پورته کولای. وای پرتا! ته دخدای پرستی دعوه کوی، ولی دخدای په کارونو اعتراض هم کوی، اودصالحو بندګانو اعمال مردود ګنی، پس ادعادی دروغجنه اونادرسته ده. اسلام، له استسلام څخه اخیستل شوی،یعنی الهی قضاء ته تسلیم اوپه کړو یی رضایت، یعنی له کتاب اوسنتو سره موافقت، که وتوانیدی چی داسی اوسی،نوهلته ویلای شوچی اسلام دی درست دی.

حرص او امل اودنفس غوښتنی تا دمعاصی کولوته هڅوی، اودحق داوامرومخالفت ته دی ګماری. هرکله که دی هیلی محدودی کړی، خیراوسعادت به درته مخه کړی. که درستګاری غوښتونکی یی باید دنفسانی آمالوڅخه لیری شی،

اوهرڅه چی دقدرپه حکم دی نصیب دی، په هغی راضی اوقانع اوسی. تل باید دشرعی څخه پیروی په نظرکی ولری، نه دنفس اوشهواتو تابعیت. اوځرنګه چی وروسته دانبیاو(علیهم السلام) له زمانی څخه هغه کسان چی دمطمئنه نفس خاوندان دی، اوپه ټولیزه سره دنفس له هوالیری اودشهودت اوریی مړشوی، ډیرلږمووندل کیږی، نوځکه کتاب اوسنت چی له ګناهونو اومعاصیو څخه دوه غښتلی ځواکه ، دوه کامل مرشدان دی پیروی اومتابعت وکړی. ولی ته چی سرترپایه نفس اوعادت یی، اوله توکل اوتوحید څخه بهره نلری، دغه دوه عامله نادیده ګنی. نه پوهیږی چی په ترخوپسی خواږه، له ماتی وروسته رغیدنه،له مرګه وروسته ژوند،له ذلته بیا عزت، په فقرپسی بډاینه،اوله نابودی وروسته بود منځ ته راځی. که په دی امرصبرولری، هغه څه چی له خدایه غواړی درته به ورسیږی، له دی څخه پرته به په کوم شی بریالی نشی.

پوه شه هرڅه چی دی له خدایه لیری کوی درته شوم اوبدپایلی دی، هرڅومره چی لمونځ او روژه ونیول شی ولی پرته دزړه له حضوره اودباطن له صدقه ترسره شی، هغه روژه چی لوږه اوتنده یی تادخدای له یاده غافل وګرځوی. پدی حال کی ته په ریښتینی دخلق اوهوااونفس بنده یی. ولی عارف تل په حضورکی دی، اودقرب دلواء ترسیوری لاندی هوسادی، دالهی قضاءاوقدرسره موافق اوسازګاره دی، دخدای دغوښتنی پروړاندی له ځانه اختیاراواراده نلری، اودهغو کسانو له جملی څخه دی چی حق سبحانه وتعالی دهغوی په هکله فرمایلی: (**ونقلبهم ذات الیمین وذات الشمال**)-هرکله که دعجزاوکمزوری احساس وکړی دقدرت لاسونه دوی په حرکت راولی، حرکت یی دخودی په حال کی اوسکوت یی دبیخودی په حال کی دی، حرکت له حکمه اوسکون له علمه دی. هرکله که دنفس دی مرحلی ته ورسید، دنفس هوا اوطبع اوعادات به درڅخه لیری شی. په خلکو مقید اومتکی مه اوسه، ځکه څوک درته دګټی اوتاوان رسولوباندی ندی قادره، باید ګټه اوزیان یوازی له متعال خدای څخه وغواړی.څوک چی دی مرحلی ته ورسید، دنړی ترټولو ځواکمن کس دی. زیاروباسه هغسی کرامت چی آدم علیه السلام ته چی دملائکو مسجود وګرځید، له تاهم ظاهرشی.

ای کم عقله، تقفه(تقوی) وکړه، بیا یوازیتوب غوره کړه، دراستانو قوم په همدی لاره و، لومړی یی زده کړه بیا په زړه سره له خلکو ګوښه شوی، ولی تل ددوی په خدمت کی وی، اوددوی په لاربښوونه او ارشاد بوخت دی، ولی په ټولو احوالاتوکی یی اسراراوزړونه دحق په حضور اودهغی په خدمت بوخت دی. ظواهریی له خلکو سره دی، اوبواطن یی ددوی له قیدڅخه بیزاره ، زړونه یی خدای ته راجع اوددنیا په غولونکومادی ښکلا ووباندی معترض دی، په ظاهره یی کره دحکم ترسره کول، اوپه باطن کی دانس په مقام کی دی. هرکله که یی دجامو یو برخه ککړه شی، نوخپله یی پاکوی، اوکله چی څیری شی نو خپله یی ګنډی، دوی دقوم مشران دی، دغروپشان پایداره، زړونه یی دحق په حضورکی دی،اوپروړاندی یی دهغه په ازلی اوابدی علم کی لامبوزن دی.

**لویه خدایه ، ستا یاد زمونږخواږه، اودخپل قرب مقام زمونږځواکمنی وګرځوی. آمین!**

ولی ته زړه مړی یی اوله زړه مړوسره همرازه اوهمناستی یی. پرتالازمه ده چی دنجباوو اونیکوخلکو په ناسته سره دځان په ژوندی کولو کی زیاروباسی. ته دداسی قبر په شان یی چی ستاپشان قبر ته نیږدی کیږی، داسی مړی چی دځان پشان له مړی سره مل کیږی، داسی ګوډ چی بل ګوډ یی مرسته کوی، داسی ړوند چی باید بل ړوند یی ترلاس ونیسی. وبیښ شه، له مومنینو، موقنینو اوصالحینوسره ناسته وکړه، اودویناپه اوریدو یی صابره اوسه، نصیحتونه یی په کارواچوه، ترڅورستګاره شی، دبزرګانو ویناواوره اوعمل پری وکړه، که دفلاح اورستګاری غوښتونکی یی ، ددوی درناوی وکړه. زما یو مرشد اومراد شته چی هرکله له ستونزی سره مخ شم، په زړه له ماسره خبری کوی، نوځکه

وینا ته اړتیا نشته، اودادهغه ادب په وجه چی زه یی پروړاندی مراعات کوم،  ته هم زده کړه چی پرته له ادبه له بزرگانوسره چلند ونکړی.

مومن بخیل ندی، ځکه کوم څه ندی ورسره پاته چی دهغی په هکله بخل وکړی، هغه هرڅه دخدای په لاره کی له لاسه ورکړی دی، زړه یی له مادی تیارو څخه په ټوله سره پاک دی، اوهرڅه چی ورکول کیږی، اخلی اونوروته یی وربښی. بخل دهغو کسانو کاردی چی مالداره وی،  مومن که څه هم په لاس ولری، هغه دځان نه ګڼی، بلکه دنورو لپاره یی ځانګړی ګڼی، پس څرنګه به دنوروپروړاندی بخل وکړی؟ دهغی په نظر دوست اودښمن، مدح اوذم، عطااومنع، سود اوزیان، یوشان دی، ځکه داټوله له خدایه ګڼی اوبس. نه ددی دنیا په ژوندښاد دی اونه له مړینی ویره لری،  مرګ اوژوند دخدای په رضا کی ګڼی. په جلوت کی په وحشت کی دی، اوپه خلوت کی دحق دجلال اوجمال انیس. خواړه یی دخدای یاد اوڅښاک یی دانس شراب دی،  نوځکه هغه نشی بخیل کیدای، اوددنیا بی ارزښته مال ته کوم قدرنه ورکوی، ځکه ځان له هرڅه بی نیازه ګڼی.

**و«آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار» آمین.**